# څنګه د تابعیت او مهاجرت اداري د شکایتونو مامور څخه د مرستې غوښتنه وکړئ

## لومړی پړاو

**هڅه وکړئ خپله مسله په مستقیم ډول د امریکا د تابعیت او مهاجرت له اداري سره حل کړئ**

**مخکې له دې چې تاسو د تابعیت او مهاجرت اداري د شکایاتو له مامور څخه د مرستې غوښتنه وکړئ، تل هڅه وکړئ چې لومړی د امریکا د تابعیت او مهاجرت له اداري سره خپله ستونزه د لاندې لارو په کارولو سره حل کړئ:**

- په لاندې ډول د خپل دوسیې په هکله د امریکا د تابعیت او مهاجرت له اداري څخه پوښتنه وکړئ:
  - د امریکا د تابعیت او مهاجرت اداري د آنلاین حساب له لارې نه، په دې انټرنټي آدرس کې **https://egov.uscis.gov/casestatus**
  - ددې آدرس نه الکترونیک غوښتنه **https://egov.uscis.gov/e-Request**
  - د ایما یا مجازی همکار نه وپوښتئ
- د لاندې شمېرې په کارولو سره د امریکا د تابعیت او مهاجرت له اداري سره اړیکه ونیسئ 1-800-375-5283
- که د پوستي صندوق په هکله پوښتنه لرئ دغه ایمیل آدرس سره اړیکه ټینګه کړئ **lockboxsupport@uscis.dhs.gov** او د پناهندګی او کډوالی دوسیې د طی مراحلو د وختونو په هکله د لاندې ایمیل سره اړیکه ونیسئ **refugeeaffairsinquiries@uscis.dhs.gov**
- د ټولو نورو پوښتنو له پاره لاندې انټرنټي آدرس ته لاړ شئ **https://uscis.gov/about-us/contact-us**

## دویم پړاو

**د خپلې دوسیې په هکله د مرستې غوښتنه په آنلاین توګه لاندې آدرس ته واستوئ او کمکي اسناد ورسره اپلود کړ www.dhs.gov/cisombudsman**

که تاسو د کانګرس استازی څخه د مرستې غوښتنه کړې وي، مخکې له دې چې موږ سره اړیکه ونیسی مهرباني وکړئ د دوی ځواب ته انتظار وکړئ ترڅو د تکرار څخه مخنیوی وشي.

**موږ په کلکه ترجیح ورکوو چې د دوسیې په هکله د مرستې غوښتنې لپاره تاسو زموږ آنلاین فورم DHS 7001وکاروئ،**

که تاسو نشئ کولی خپله غوښتنه په آنلاین بنه وسپارئ، تاسو کولی شئ کاغذي فورمه زموږ له ویب پاڼې څخه ډاونلوډ کړئ او موږ ته یې په لاندې لارو واستوئ:

ایمیل: **cisombudsman@hq.dhs.gov**

**د پست له لارې څخه لېږل:**

Office of the Citizenship and Immigration Services Ombudsman
Department of Homeland Security
Attention: Case Assistance
Mail Stop 0180
Washington, D.C. 20528

- **که تاسو قانوني وکیل یاستئ**، تاسو باید لاسلیک شوي جی-۲۸ فورمه یا اعتبار لرونکی استازې د حاضریدو خبرتیا ضمیمه کړئ، د وکیل. باید د جي-۲۸ فورم سره چې د امریکا د تابعیت او مهاجرت اداري ته مو د دوسیې په تړاو لېږلې دي سمون ولري.
- **که تاسې په لاندې مواردو کې غوښتونکي یا عریضه کوونکي یاستئ (یا مخکې تاسې ته درکول شوي دي) پناهندګی یا سیاسي پناهندګی، T, U, VAWA**، تاسو کولی شئ په آنلاین بنه غوښتنلیک واستوئ خو خپل قلمی لاسلیک (غیر کمپیوټري لاسلیک) په مربوطه برخه کې اضافه کړئ. ځان مطمئن کړئ چې د امریکا د تابعیت او مهاجرت اداره د تاسې صحیح آدرس لري. د آدرس د بدلیدو په هکله د نورو معلوماتو لپاره لاندې انټرنټي پتې ته لاړ شئ **www.uscis.gov/addresschange**

## دریم پړاو

**ستاسې د کمک غوښتنلیک د ترلاسه کولو نه وروسته، موږ به:**

- تاسو ته د غوښتنلیک د رسیدو تاییدي ایمیل واستوو، سره د تاییدي لمبر سره چې تاسې د تابعیت او مهاجرت د شکایاتو له مامور څخه د مرستې غوښتنه کړې ده (یا د پست له لارې نه که تاسې دغه برخه انتخاب کړې وي)
- موږ به ستاسې غوښتنلیک د بشپړتیا او لازمې موافقې له اړخه وڅېړو
- که نورو معلوماتو ته اړتیا وي تاسې ته به ایمیل واستوو
- ځان به مطمئن کوو چې تاسې لپاره مخکې داسې غوښتنلیک استول شوي نه دي
- ستاسې دوسیه به وڅېړو چې څنګه کولی شو ستاسې ستونزه په ښه بڼه حل کړو
- د ایمیل یا پست له لارې نه به تاسې ته احوال درکړو که موږ مرسته کولی شو، یا دا چې ولې مرسته نشو کولی، یا که د امریکا د تابعیت او مهاجرت اداره د تاسې ستونزې د حل لپاره اقدام کړی وي

**مهم ایمیلونه له لاسه مه ورکوئ چې زموږ د دفتر لخوا راځي، لاندې ایمیل آدرس د پخپل اړیکو په لیست کې ثبت کړئ cisombudsman@hq.dhs.gov**

## څلورم پړاو

**که موږ کولی شو د ستونزې په برخه کې تاسې سره مرسته وکړو، موږ به:**

- د امریکا د تابعیت او مهاجرت له ادارې سره اړیکه ونیسو چې ستاسې پر دوسیه باندې کار کوي
- تاسې ته به د ایمیل یا پست له لارې نه احوال درکړو چې ستاسې د غوښتنې په هکله موږ د امریکا د تابعیت او مهاجرت ادارې سره اړیکه نیولې ده
- په دوامداره توګه د امریکا د تابعیت او مهاجرت له ادارې سره په اړیکه کې پاتې کېږو ترڅو د تاسې ستونزې د حل په هکله موږ ته ځواب ووایي
- کله چې د امریکا د تابعیت او مهاجرت اداره تاییدوي چې ستاسې پر دوسیه باندې کار کړی دی، تاسې سره به اړیکه ونیسو

**د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې انټرنټي آدرس ته لاړ شئ www.dhs.gov/case-assistance**

همدارز تاسې کولی شئ زموږ د معلوماتو برخې ته لاړ شئ چې د دوسیې د مرستې په هکله دي او زموږ د مرستې د ترلاسه کولو لپاره ښه لارې غوره کړئ